AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۰۹/۱۰

# ځلمی خلیلزاد یو ځل بیا په صحنه کي

اکثریت افغانان د خلیل زاد له نامه څخه نفرت لري او هغه ته د یوه خاین په سترګه ګوري. ما به هر وخت افغانانو ته ویل چي تاسی خلیل زاد ته ولي خاین وایاست؟ هغه یو امریکایی دی او د خپل هیواد ګټو ساتلو ته وفادار سړی دی. تاسي له هغه څخه ولي د یوه افغان تمه لری او له هغه څخه ولی هر وخت ګیله من یاست. البته هغه یوازي د امریکایی په حیث د امریکا ګټي ساتلي نه دي بلکه د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره یې افغانستان ته دونه تاوانونه اړولي دي چي لړو دښمنانو به ورته رسولي وي.

خلیل زاد له ۱۹۸۲ کال څخه د مجاهدینو د مشرانو لپاره د جمهوررییس ریګن خاص استازی یا سفیر وو او په وروسته کي تر اوسه پوري د جمهوري غوښتونکو جمهوررییسانو له خوا د مجاهدینو د تنظیمونو، طالبانو، د افغانستان  د حکومتونو او بیا هم د طالبانو لپاره د امریکا د حکومت استازی وو. خلیل زاد په دي څه کم پنځوسو کلونو کي ، د افغانستان په سیاسي صحنه کي، د افغانستان تر خپلو سیاسي مشرانو هم زیات فعال او اغېزمن کردار دی او په ۲۰۱۹م کال کي د طالبانو او د امریکا د حکومت ترمنځ د دوحي د بدمرغي موافقي د لاسلیک کېدلو او په وروسته کي، د هغي موافقي په اساس، د طالبانود قدرت نیولو او د جمهوریت د سقوط یو عامل هم دی پخپله وو.

خلیل زاد له لومړي سره یوازي یو امریکایی ډیپلوماټ نه وو بلکه له لومړیٔ ورځي یې، د خپلي ډیپلوماټیکي وظیفي تر څنګ، د افغانستان په ټولو حوادثو کي د افغانستان د خلکو په مستقیم تاوان رول درلودلی دی او د خپلي خوښي سره سم یې مستقیمي مداخلي کولي. په ۲۰۱۲ کال کي یې دوه ځله په واشنګټن کي خپل دفتر ته ور وغوښتلم او دواړه ځله یې تر یوه ساعت زیاتي خبري را سره وکړې. زه اوس هم نه پوهېږم چي ولي یې دفتر ته وربللم. ځکه چي زه نه سیاستمدار، نه قومي مشر او نه د کوم اجتماعي نفوذ خاوند وم. ښایی داسي به یې په لس هاوو نور افغانان وربللي وي. په دوهم مجلس کي یې له جمهوررییس کرزي څخه ډېر زیات شکایت وکړ او په پای کي یې ماته وویل چي کودتا ورته و کړو که څنګه؟ ما ورته وویل چي د کرزي صاحب خو هسي هم لږ وخت پاته دی. دا خبري یې د خپل پښتانه سکرتر یا د دفتر د رییس په مخکي، چي اوس هم کار ورسره کوي، راته وکړې. له دي څخه ښکاري چي خلیل زاد د افغانستان په سیاست کي څونه مستقیمه لاسوهنه کوله.

تېره هفته رپوټونه خپاره سول چي ګواکي خلیل زاد کابل ته تللی او د طالبانو له خارجه وزیر امیرخان متقي سره یې کتلي دي. هر چا ویل چي خلیل زاد به د امریکا  د حکومت په استازولی هلته تللی وي او ښایی دا د طالبانو  په مقابل کي د امریکا د دریځ د تغییر نښه وي. خو د امریکا حکومت اعلان وکړ چي خلیل زاد د امریکا د حکومت په استازیتوب نه بلکه په خپل شخصي ابتکار  هغه هیواد ته تللی دی. او وروسته مو ولیدل چي خلیل زاد په کابل کي د طالبانو او د د لتا د ګروپ تر منځ د موافقي د لاسلیک کېدلو په ترڅ کي د ملا برادر شاته ولاړ دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

افغانستان ته د خليل زاد له دې وروستي سفر او د ملا برادر شاته عکس څخه په زغرده ښکاري چې خليل زاد نه يوازي د خپلو فعاليتونو څخه لاس نه دی اخيستی بلکه ځکه يې لا زور ورکړی دی چې ويل کيږي د ده زوی له څه باندي ۱۵ کالو راهيسي د تېلو په قراردادونو او حمل او نقل کي برخه لري. يوه خبير سړي، چې د جمهوريت په کلونو کي يې څه کم لس کاله پر لوړو چوکيو کار کړی وو، راته وويل چې د خليل زاد زوی او د جمهوريت په کلونو کي د دوو يا دريو وزيرانو زامن هم د جمهوريت له پيل څخه تر پايه پوري د تېلو په قراردادونو کي شريک ول او اوس هم لا فعال دي.

دا چې د دې او دغه ته ورته نورو قراردادونو څخه څومره پيسې ترلاسه کيږي ځکه د افغانستان د خلکو لپاره مهمه مسله نه ده چې دا ټولې ترلاسه سوې پيسې د طالبانو او د هغوی د انډيوالانو جېبونو ته ځي او د خلکو په هيڅ درد نه لګيږي. دا خبره ځکه کوم چې امريکا له افغانستان څخه د وتلو راهيسي تر اوسه پوري هره مياشت طالبانو ته څه باندي ۱۵۰ ميليونه ډالر نغد ورکړي دي چې په ۵ کالو کي يې خبره تقريباً ۱۰ بيليونو ډالرو ته رسيږي. ملګرو ملتونو څه موده مخکي اعلان وکړ چې ۶بيليونه ډالر يې طالبانو ته د بشري مرستو په توګه ورکړي دي. دا نغدي پيسې پر هغو عايداتو برسېره دي چې طالبانو د ګمرکونو او صادراتو له لاري ترلاسه کړي او د دې ترڅنګ يې د بدخشان او پنجشېر قېمتي ډبري را ايستلي او په بازارونو کي يې په غير قانوني توګه پلورلي دي.

د افغانستان کلنی عايد په کال کي په اوسط ډول ۸۵۵ ميليونه ډالره دی. چې په پنځو کالو کي ۴،۲ بيليونه ډالر کيږي. که له دې پيسو څخه د طالبانو هغه غير قانوني عايدات، چې د ډبرو له خرڅلاو څخه يې ترلاسه کوي، وباسو نو له هغو پيسو سره چې امريکا او ملګرو ملتونو افغانستان ته ورکړي دي نو طالبانو په دې پنځو کالو کي څه باندي ۲۰ بيليونه ډالر يا په هر کال کي ۴ بيليونه ډالر ترلاسه کړي دي.

طالبانو د جمهوريت په شلو کلونو کي په پاکستان کي ژوند کړی دی او ټول شل کلونه يې د کوکنارو له کښت او د مخدره موادو له توليد او قاچاق له لاري د پيسو د ترلاسه کولو څخه، چې ويل کيږي، په کال کي، په اوسط ډول، ۶ بيليونه ډالر کېدل، خپل جنګونه تمويل کړي او د ټول افغانستان امنيت يې ورخراب کړی، ثبات يې بې اطمينانه کړی او په زرګونو انسانان يې د خپلو ځانمرګو حملو قرباني کړي دي. هغوی به اوس هم له دغو پيسو څخه د ځان مرګو او دهشت اچوونکو د روزلو لپاره کار اخلي او که نن نه وي په نيژدې راتلونکي به د سيمي امنيت ته خطر پېښوي. په داخل کي به خپل تور رژيم ته دوام ورکوي. د نجونو پر زده کړو به بنديز دوام لري. خلک، په تېره بيا د پخواني نظام مامورين او امنيتي کارکوونکي به تري تم کيږي او د بشر پر حقوقو به تېری نور هم زور اخلي. او د دې ټولو بديو تر څنګ لا اداري فساد داسي حالت ته رسېدلی او عام سوی دی چې هيڅ دولتي اداره ورڅخه بېغمه نه ده.

په داسي حال کي چې طالبان په عيش او نوش لګيا دي. هر يوه يې دوه او درې ودونه کړي دي. ټول مشران يې په بنګلو کي ژوند کوي او په زغره والو موټرونو کي ګرځي او ټول مشران يې په هم په داخل کي د جايدادونو څښتنان سوي او هم په بهر کي پانګوني لري خو د افغانستان د خلکو اکثريت  Under poverty line  يا د فقر او بېوزلی تر کرښي لاندي ژوند کوي. د هيواد په سلو کي اتيا ځوانانو ته که د تېښتي لاره برابره سي په وطن کي نه پاتيږي او تر ايران پوري د رسېدلو لپاره شپې شپې پياده مزلونه کوي. د هغه سړي ويډيو به ټولو افغانانو ليدلې وي چې په بازار کي ولاړ دی. ژاړي او خپله ماشومه لور پلوري.

دا پيسې بالاخره څه کيږي او د افغانستان خلکو ته يې څه ګټه رسيږي. د تېلو پروژې او له ګاونډيو هيوادونو سره تجارتي او اقتصادي قراردادونه هغه وخت ګټه کوي چې هيواد يو سالم نظام ولري او قدرت د چړي او ملا په لاس کي نه بلکه د اهلو او وطن پالو انسانانو په لاس کي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خلیل زاد د امریکا په جمهوري غوښتونکي ګوند کي ډېر زيات نفوذ لري او ښايی له جمهوري غوښتونکو سره د خپلو اړیکو او نفوذ څخه په ګټي اخيستلو سره د طالبانو لپاره کمپاين وکړي څو لړترلږه په امريکا کي د رسميت پېژندلو لپاره لاره ورته هواره کړي. البته دا به د افغانستان د خلکو د بدمرغه کېدلو او د طالبانو د تور نظام د عمر د اوږدېدلو لپاره داسي ګام وي چي طالبان يې هره ورځ خوبونه ويني. د طالبانو له نظام سره هرډول مرسته او د هغوی د ثبات په لاره کي هر ډول هلي ځلي د ټول افغانستان له خلکو سره ښکاره ظلم دی.



په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ